Public Disclosure Authorized

79699 v2

# د افغانستان د سرچينو د دهلېز پراختيا:

## د انرژۍ د برخي تحليل

١ جولاي ٢٠١٢

جان اروینګ او پيترمير

Public Disclosure Authorized

Download from:aghalibrary.cm

**اجرائيوي لنډيز**

1. پدې راپور کې د برېښناه په سکتور باندې د سرچینو دهلیز د پراختیا د وړاندیز اغېزې څېړل کیږي. د کانونو وده او پراختیا چې د سرچینو د دهلیز د پراختیا هسته تشکیلوي یواځې د برېښنا بالقوه مصرفونکي ندي، بلکه دوي د افغانستان لپاره د برېښنا بالقوه سرچیني هم دي، پدې معنا چې کولای شو د کانونو د استخراج او پروسس لپاره د برېښنا د تولید د لوی پروژو څخه د استخراجي سکتور برسیره په نورو برخو کې هم کار واخلو. د سکرو او غازو د پام وړ زېرمو د شتون له امله د دغه ډول برېښنا تولید شونې دې.
2. دا به نه یواځې د برېښنا د تولید په پراختیایي پلان باندې مهمې اغېزې ولري، بلکې د لیږدولو د سیستم په جوړښت یا شکل باندې به هم خپلې اغېزې پریباسي. په ځانګړي توګه دا به د یو ځای کېدنې لپاره یو فرصت رامنځته کړي او د دغې په وسیله به د افغانستان د بریښنا د توزیع سیستم کوم چې په دې وروستیو کلنو کې تر ډېره د مرکزي اسیا هیوادنو (په ځانګړي ډول ازبکستان) او همدارنګه ایران څخه (چې د هرات سیمي د بریښنا اړتیاوي پوره کړي) د بریښنا په وارداتو باندي اتکاء لري، د برېښنا ډول ډول سرچینو ته لاس رسې پیدا کړي.
3. د افغانستان ستراتیژیک موقعیت دغه هیواد د انرژي د لیږد د ګن شمېر پروژو لپاره په یو مهم لوبغاړي بدلوي. دغه انرژي چې د ګازو د غټو پایپ لاینو پروژي او د برېښنا د تجارت هم پکې شامليږي، د افغانستان د شمالي او غربي ګاونډیو څخه چې د انرژي له لحاظه بډایه ګڼل کیږي د دې هیواد شرقي او جنوبي ګاونډیو ته چې د انرژی د کمبود سره مخ دي، ولیږدول شي. پدې کار سره به نه یواځې دا چې د ټرانزیت یا لیږد فیس، او د بهرنیو اسعارو څخه ګټه ترلاسته شي بلکې د افغانستان د انرژی په عرضه کې به هم د زیاتوالي لامل وګرځي (پدغه برخه کې د مرکزي اسیا د هیوادنو څخه پاکستان ته په زیاتیدونکې کچه د بریښنا تجارت د دې راپور سره په مستقیم ډول تړاو لري).
4. خو د افغانستان د برېښنا سکتور د مسایلو د یو پیچلې ټولګې سره چې تر ډېره په ستونزمن امنیتي حالت او په پراخې کچې د ګاونډیو هیوادونو د برېښنا د تولید په سیستم باندې د دې هیواد په اتکاء پورې تړاو لري، مخامخ دی : په ۲۰۱۱ کال کې، د شمال شرق د بریښنا سیستم کوم چې شمال او کابل ته بریښنا ویشي، خپل ۷۷% اړتیاوي له وارداتو د لارې پوره کړي. په صادرونکي هیوادونو کې ایران او د مرکزي اسیا څلور هیوادونه کېرغزستان، تاجیکستان، ترکمنستان او ازبکستان شامل دي.
5. په تیرو پنځو کلنو کي د تولید یواځنی نوې کورنی پروژه ( په تره خیلو کي د ۱۰۵ میګاواټو ډیزلي پروژه چې په کال ۲۰۱۰ کې بشپړه شوه) د لوړ عملیاتي لګښتونو او د تیلو د کموالي له امله ډیره لږه کارولی شوې ده. د اوبو په وسیله د بریښنا تولید یو غوره بالقوه انتخاب دی، خو عملي کېدنه او لګښتونه یې نامعلوم دي. د ۲۰۰۴ کال ماسترپلان د اوبو څخه د برېښنا د تولید لپاره د دوه سترو پروژو د جوړونې وړاندیز کړی( د سروبي دویمه برخه، ۱۸۰ میګاواټ، باغدره، ۲۸۰ میګاواټ)، خو د اوبو څخه د برېښنا جوړونې د ډېرې ممکنه پروژو څېړنې په ۱۹۸۰ مو کلنو کې ترسره شوی دي او ځینې یې مخکې له دې چې په باوري توګه یې د لګښتونو، هایدرولوجي، او چاپیریالیزې اغیزو په اړه څه وئیل شي، د عملي کېدنې لا زیاتو هر اړخیزه څېړنو ته اړتیا لري. د برېښنا تولید لپاره دې ته ورته ابهام د شبرغان د غازو د استخراج په برخې کې شتون لري: که چېرې د ذیرمو اوسنی کچې تصدیق کړای شي، کېدای شي دا ګاز په نورو برخو کې وکارول شي (د کیمیاوي کوډ صنعت، د کورونو د کارونې لپاره). دغه ګاز تیز یا تریو دی او د بریښنا د تولید څخه د مخه باید تصفیه شي: دا معلوملول چې دې لپاره به سي سي جي ټي (CCGT) غوره انتخاب وي او که ګازي انجنونه، لا نورو څېړنو ته اړتیا شته.

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Development: Power Sector Analysis ده چې لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسي متن ته غوره توب ورکول کیږي.

6. د سرچینو د دهلیز د پراختیا پروژه کېدای شي افغانستان ته دا فرصت په لاس ورکړي چې د سکرو او غازو داخلي ذیرمو څخه بریښنا تولید او ولیږدوي او همداراز په عین وخت کې کابل ته نږدې د اوبو څخه د بریښنا د تولید وړتیا رامنځ ته کړي. اوسني یا فوري ملاحظه د ام جي اي ام هغه وړاندیز څخه ډاډ دی (د کابل په جنوب کې د عینك د مسو د کان استخراجونکي چنیایان) چې دوي په اشپشته کې د سکرو په وسیله د حرارتي بریښنا تولیدي فابریکه چې د دوي د اړتیا سربیره چې ۱۵۰ میګاواټه کیږي، ۲۰۰ میګاواټه بریښنا د کورني اړتیاوو لپاره برابر کړي. د دي سره اړوند د اشپشته څخه د عینك د مسو تر کان پوري د ۲۲۰ کیلوولټ مزي تمدید به اړین وي، تر څو د افغانستان د بریښنا سیستم سره په مناسب ډول اتصال ونښلول شي. همدارنګه دا فرصت هم شتون لري چې د ۲۲۰ کیلو ولټو مزي په غزیدنې او کارونې سره د کابل چاپیره د 220۲۲۰ کیلو ولټو د حلقې لپاره یو بنسټ رامنځته کړي. د کانو وزارت او د ام جي اي ام پدې نظر دي چې د پروژې څخه ترلاسه شوې برېښنا بیه به د دواړو خواوو په توافق سره ټاکل کیږي او دا تفاهم هم شتون لري چې د برېښنا د پېرودنې په یو توافق هم خبرې اترې ترسره شي خو لا تر اوسه پدغه هکله کومې خبرې اترې پېل شوی ندي. داسې تمه کیږي چې د شمال شرق د بریښنا سیستم (NEPS) به د پام وړ په اندازه د ازبکستان څخه د وارد شوی ګازې بریښنا له اوسني قیمت څخه چې ۷،۵ سنټه / کیلواټ ساعت دی، کم وي.
7. د اي اف اي اس سي او (AFISCO) د اوسپني د کان د پروژې اغېز ډېر ناڅرګند دی. داسې ښکاري چې یاده پروژه شاید د خپلې کارونې لپاره د سکرو په وسیله د حرارتي بریښنا تولید پروژه رامنځ ته نکړي، او که چېرې پروژه یوائې د کان د استخراج او لیږدولو پورې محدوده پاتې شي، نو د بریښنا اړتیا به یې هم کوچنی وي (تقریبا 50 میګاواټ). که چېرې اوسپنه تولید شي، نو بیا یاده پروژه کېدای شي د بریښنا خالصه صادرونکي ( که چېري د اوسپنې د ذوب او تغیر پروسې( blast furnace conversion process ) وکارول شي، ځکه ښاري ګاز د پخلي څخه او د اوسپني د ذوب څخه تولید شوی ګاز کېدای شي د بریښنا د تولید لپاره وکارول شي) او یا خالص د ګاز واردونکي (که چېرې دوي د ډي ار اي (DRI process) پروسس څخه کار واخلي)، او یا هم دواړه (که چېرې اضافي طبیعي ګاز شتون ولري، کېدای شي د اوسپنې د ذوب څخه تولید شوی ګاز څخه په سي سي جي ټي (CCGT) کې د بریښنا د تولید لپاره کار واخیستل شي) وي.
8. دا مهمه ده چې په دې وپوهیږو چې د ګاونډیو هیوادونو د بریښنا سیستمونه په یو وخت کې فعالیت نه کوي، او هغوي د خپلو صادراتو له لارې افغانستان دې ته اړ کوي چې د بریښنا شپږ جلا سیستمونه فعال کړي چې هر یویې د ګاونډویو عرضه کونکو سره همغږي ولري. که څه هم دې کار د افغانستان سره مرسته کړې ده چې په تیرو پنځو کلنو کې خپل د بریښنا پیرودل پراخه کړي، خو په ناهمغږې توګه د بریښنا وارداتو په منطقي ډول د بریښنا د شبکې د نښلیدنې او پراختیا فرصتونه محدودوي. په افغانستان کې په جغرافیوي لحاظ د پنځو جلا بریښنایي شبکو له جملې څخه د شمال شرق د بریښنا سیستم تر ټولو لوی دی. کېدای شي دوي ټول سره وصل شي که چېرې په ترتیب سره د مرکزي اسیا هیوادونه تصمیم ونیسي چې په همغږي ډول به فعالیت کوي او یا د یو بل سره د لوړ ولتاج لرونکي مستقیم جریان په وسیله د نښلیدنې توافق وکړي. د شمال شرق د بریښنا سیستم اوس مهال د کابل ښار یو برخې ته د تاجیکستان او ازبکستان څخه د ۲۲۰ کیلوولټ مزي په غزولو سره بریښنا رسوي. او د کابل نورې برخې د بیلابیلو حرارتي جنراتورونو او اوبو څخه د تولید شوی بریښنا په وسیله چه تر دې مهاله د شمال شرق د بریښنا له سیستم سره نده همغږې شوی، روښانه کیږي. داسی هیله شته چې په راتلونکي کې د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالي پراختیاي اداري په مالي مرستې سره د یوې پروژې په وسیله د شمال شرق د بریښنا سیستم په کندهار کي د مقر لرونکي جنوب شرق د بریښنا سیستم سره ونښلول شي.

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Development: Power Sector Analysis ده چی لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسې متن ته غوره توب ورکول کیږي.

9. د لیږد په برخې کې نورې پانګوني د همغږی د ستونزو مخه نشي نیولې. د ازبکستان سره د افغانستان قرار داد په صریح ډول د افغانستان بریښنا شرکت د دې څخه منع کوي چې د برېښنا د تولید کورنی کارخانې د ازبکستان له سیستم سره همغږي کړي. په همدې ډول د ترکمنستان سره قرار داد دا خبره قید کړې چې په افغانستان کې د لوړ ولتاژ لیږدونکي اسانتیاوې باید `` ورته تخنیکي مشخصات ولري``. په حقیقت کې د دې معنا دا ده چې د کابل د توزیع مرکز اوس مهال له دوه جلا سرچینو څخه اکمالیږي؛ یوه برخه یې د ازبکستان له سیستم څخه او بله برخه یې د کورني تولیداتو څخه. همدا راز د ازبکستان-کابل د مزي په اوږدو کې د بریښنا د تولید نور کوچني مرکزونه هم د ورته ستونزې سره مخ او دې ته اړ دي چې خپل ډیزلي او یا کوچني تولیدي وسایل پرته لدي څخه چي د ازبکستان ارزانه بریښنا ته لاس رسې ولري وکاروي. له همدې امله، په لومړي پړاو کې دا اړینه ده چې افغانستان د منځنی اسیا د هیوادنو لپاره د قبول وړ ګریډ کوډ (Grid Code) رامنځته کړي ترڅو د افغانستان بریښنا شرکت وتوانیږي چې په کور دننه تولید شوی بریښنا د وارداتي بریښنا د سیستمونو سره همغږې کړي.

10. د ناهمغږی ستونزه، د اوږدو واټنونو شتون ( د لوړ ولټاژ لیږدونکي اوږدو مزو HVAC Transmission lines له عملیاتي محدودیتونو سره یوځای )، او د بریښنا د لیږدولو فرصتونو ته په پام ، پدي کي هیڅ شك نشته چي د HVDC سیستم به په یو نه یو ډول په راتلونکي کې د افغانستان د لېږد د سیستم یوه برخه وي. د یو بل سره د نښلونې لپاره یو اوسنې وړاندیز د HVDC (B/B) سیستم د نصبولو چې په افغانستان کې به موقعیت ولري او د افغانستان بریښنا شرکت ته به دا وړتیا ورکړي چې د ګاونډیانو څخه په مستقله خپل د همغږی سیستم رامنځ ته کړي. خو دا تګلاره ډیر لګښت غواړي او که چېرې بلاخره د ګاونډي ملکونو سیستمونه د یو بل سره همغږي را منځته کړه نو کېدای شي افغانستان ته د پام وړ HVDC B/B تجهیزات هسې پر ځای پاتې شي. سر بیره پردي، د HVDC او HVAC د ادلون بدلون د اسانتیاوو په رامنځته کولو کې د پام وړ پانګونې وروسته افغانستان به ونشي کولای چې په خورا ټيټه بیه د HVDC د لیږد سیستم د جوړونې څخه ګټه پورته کړي او همدا رنګه د HVAC سره په موازي ډول د فعالیت له امله د نورو تخنیکي ګټو څخه برخمند شي.

11. د مرکزي اسیا د هیوادنو څخه پاکستان (د دغه برېښنا یو څه اندازه به کابل ته هم ورکړای شي) ته د HVDC برېښنا د لیږد لپاره یو شمېر نورې پروژې وړاندې شوی دي . د ازبکستان – افغنستان – پاکستان د بریښنا لیږدولو پروژه به ۱۰۰ میګاواټه (۹۱۵ ګیګا واټ ساعت) بریښنا د افغانستان بریښنا شرکت د HVDC سب ستیشن ته چې د کابل په شمال کې موقیعت لري ورکړي او ۹۰۰ میګاواټه به د پیښور سیمې ته ولیږدول شي. د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا-۱۰۰۰ پروژه (Project CASA-۱۰۰۰ ) به په ورته ډول HVDC په وسیله د تاجکیستان او قرغزستان جمهوریتونو څخه د تر ۳۰۰ میګاواټو پورې اضافي اوبه ایزه بریښنا کابل ته او نوره ۱۰۰۰ میګاواټه پیښور ته ولیږدوي. دواړه پروژو څخه افغانستان بېلابېلې تخنیکي ګټې ترلاسه کولای شي، په ځانګړي ډول که چېرې د همغږی او بې ثباتی د ستونزو له منځه وړلو لپاره وکارول شي او په اوږد واټن یعني کابل کي د ستر ظرفیت لرونکي مرکز ته چې د بریښنا بېلابېلې منابع لري، بریښنا ولیږدوي.

12. لدې سره سره د وارداتو / لیږد د دي طرحو مالي او اقتصادي اړخونه ، په ځانګړي ډول د ګډونوالو ترمنځ د عدالت یقیني کول لا زیات تحلیل ته اړتیا لري. د دې پروژو په اړه زیاتو ابهاماتو ته که پام وکړی شي نو د انرژي یا بریښنا د تولید په برخي کي په اوس مهال کې د پانګونې پریکړې چې کیدای شي وروسته زیانمنې ثابتې شي، ډیر خطرونه لري. افغانستان باید ځان د بریښنا د لیږد د اسانتیاوو د جوړونې په برخه کې تره هغه زیاته پانګونې ته اړ نشي تر څو چې دغه پانګونې د انرژي د پیرودلو او لیږدولو د اوږد مهاله او په حقوقي لحاظه معتبره قراردادنو په مرسته تضمین شوی نه وي.

دا سند د Executive Summary - Afghanistan Resource Corridor Development: Power Sector Analysis ده چی لیوالو کسانو ته د یو خدمت په توګه وړاندی کیږي. د اختلاف په صورت کې د دې سند انګلیسې متن ته غوره توب ورکول کیږي.

13. د دې راپور اصلي وړانديز دا دی چې اوس مهال دې د پلخمري څخه تر کابله(د سالنګ درې له لارې) د ۲۲۰ کيلو ولټ لين دوچنده کيدلوطرحه د نظره وغورځول شي. د دې پرځای د شمال – جنوب نوې ۲۲۰ کيلو ولټ لين جوړيدلو وړانديز ( او احتمالا يو ۵۰۰ کيلو ولټ لين چې په لومړيو کې به ۲۲۰ کيلو ولټ سره فعاليت پيل کړي) شمالي ښار مزار شريف څخه کيږي. (۱ انځور). ياد لين به د باميانو د ښارڅخه تير او د اشپشته له ۴۰۰ ميګاواټه د بريښنا ستيشن سره ونښليږي او له هغه ځايه به د کابل د جنوب شرق سب ستيشن سره يو ځای اوبيا د عينك د مسو كان ته وغزول شي. د دې د پراختيا لپاره د لومړي ګام په حيث دا وړانديز هم کيږي چې د تره خيلو د برېښنا د کارخانې سره د عينک د بيا نښلولو له لارې د کابل چارچاپيره ۲۲۰ کيلو ولټه دوره بشپړه کړای شي څو د عينك كان وكولای شي د تره خيلو برېښنا د خپل فعاليت د پيلولو په موخه وکاروي. د شمال – جنوب ۲۲۰ کيلو ولټه لين په ډيزاين کې باميانو ته نږدې د اوسپنې کان ته د بريښنا ورکړه او په راتلونکې کې په ساحه کې د سکرو په وسيله توليد شوي حرارتي بريښنا د نورو بالقوه ستيشنونو سره نښليدنه هم په پام کې ونيول شي. د يادې تګلارې تخنيکي جزئيات به په راتلونکي د ام جي اي ام د بريښنا د طراحانو سره د نورو خبرو اترو د د پايلو پورې منتظره پاتې شي، ليکن دغه تګلاره به شبرغان د ګازو په ساحو کې د توليد د اضافي سرچينو رامنځته کيدو سره او کابل ته ليږديدونکي انرژي لا زياتې تنوع او ثبات سره مرسته وکړي او همدارنګه د مزار شريف څخه تر پلخمري پورې په ۲۲۰ کيلو ولټ لين باندې د اضافي بار مخه ونيسي.

1 انځور: د نوي ترانزميشن يا ليږد وړانديز شوي مسير




14. د وړانديز شوي مسير لپاره زمونږ تخمين شوي لګښتونه په 1 جدول کې ښودل شوی دي. مجموعي تخمين ۱۸۴ ميلون ډالره، د اي سي بي پروسيجرنو (ICB Procedures) په اساس د لينونو او سب

ستیشنونو د ودانیو د جوړولو پربنسټ، چط د اي ډي بي (ADB) وړانديز شوي شمال – جنوب پروژي څخه د سپما په وسيله به جبران شي.

1 جدول: د لومړنيو لګښتونو تخمين

| پړاو | کاري ساحه | په نورو پراختياو اتكاء | په ميلون امريكايي ډالر |
|---|---|---|---|
| 1 | ام جي اي ام 220 کيلو ولټه لين د تر خيلو د 113 ميګا واټه حرارتي برېښنا له ستيشن څخه عينك ته غزوي | دغه لين ممكن د عينك كان ته لومړنى برېښنا د تره خيلو د ډيزلي برېښنا د توليد له ستيشن څخه وليږدوي، که څه هم چي ياده برخه د ام جي اي ام د قرار داد په ژمنو كط شامل نده. د حفظ و مراقبت د مسووليت په ګډون د پلي كولو ترتيبات، او د افغانستان برېښنا شركت ته يې د مالكيت ليږد وخت به خبرو اترو ته اړتيا ولري. | 32.2 |
| 2 | ام جي اي ام به 220 کيلو ولټه لين د اشپشته له 400 ميګاواټه فابريكي څخه د عينك كان ته وغزوي | بدغه لين بايد د كانونو وزارت او ام جي اي ام شركت ترمنځ د تړل شوى قرارداد پر بنسټ جوړ شي. همدا ډول ياد شركت مكلفيت لري چې د افغانستان برېښنا شركت ته په باميانو او دشت برچي كې هم برېښنا وركړي. همدارنګه دا هم بايد ياده شي چي د ام جي اي ام هغه كاري قوا ته د اوسيدولو ځاى چمتو كولو لپاره چي د اشپشته كان او برېښنا فابريكي سره تړاو لري، باميانو ته د برېښنا ليږد اړين وي. | 72.4 |
| 3 | د افغانستان برېښنا شركت د شمال – جنوب مسير د بشپړولو لپاره د مزار شريف څخه د لين جوړول بشپړوي | دغه پروژه به هغه مهال تر سره شي كله چي د شبرغانو حرارتي برېښنا (د غازو څخه ) ترلاسه شي او يا هم د وارداتو د يو نوي قرار داد په ترسره كيدلو څخه د تركمنستان څخه برېښنا ترلاسه كړاى شي | 65.9 |
| 4 | د مركزي اسيا- جنوبي اسيا د پروژې ( CASA Project) په پيل سره د كابل چارچاپيره د 220 كيلو ولټه برېښنا حلقه بشپړيدل | دغه پروژه كيدايي شي د مركزي اسيا-جنوبي اسيا د پروژى (CASA Project) د يو برخي په حيث جوړه كړاى شي ترڅو د HVDC برېښنا د تره خيلو او يا چمتلي او يا هم د باغدري د اوبيزي برېښنا د پروژي سره ونښلول شي. | 13.5 |

15. د برېښنا د ليږد (ټرانزميشن) مسير دقيقي ارزوني ته اړتيا لري. د سالنګ درې په اوږدو كې د بل ۲۲۰ كيلو ولټه لين د غزوني وړانديز پدې واقعيت بنا دې چي يو خو غزونه يې په واضحه توګه يو ممكن كار دې او بل د يو لوى سرك تر څنګ موقيعت لري . كه څه هم چي شته ۲۲۰ كيلو ولټه لين د ډېرې برېښنا د لېږد وړتيا نلري، خو نوره بديل مسيرونه شتون لري چي نه يواځې د كورنى سرچينو څخه په مستقيم ډول د برېښنا لاس ته راوړلو لپاره ګټور دي بلكې په عين وخت كې د ډول ډول سرچينو څخه د برېښنا په تامين سره د كابل د برېښنا د سيستم د لا امنيت لامل هم ګرځي. لدې امله د دې پرځاى چي د ۲۲۰ كيلو ولټه لين ظرفيت په عين مسير كې د موازي لين په غزولو سره يو پر دوه كړي، د بيروبار د كميدلو لپاره به دا ښه وي چي ياد مسير د راتلونكي HVDC لين لپاره كوم چي به كابل يا د كابل څخه په تېرېدو پاكستان( CASA Project) ته برېښنا ليږدوي، خوندي وساتل شي.

16. له بل پلوه د ازبکستان – افغانستان – پاکستان پروژې (UAP Project) د شمال – جنوب يو موازي مسير په ګوته کړی، کوم چې کيدای شي د نوي ۵۰۰/۲۲۰ کيلو ولټه لين لپاره وکارول شي او د دې سره به د لارې په مسير کې د سب سټيشنونو رامنځ ته کولو او د ام جي اي ام طرحه شوي لين سره د نښليدو فرصت رامنځ ته شي. دا بايد ومنل شي  چې که څه هم د لويو سرکونو سره نږدې د ليږدونکو لينونو جوړونه ګټې لري، خو د هيواد ځخه تيريدونکي مسير کيداي شي تر ډيره واټنونه رالنډ او له دې امله لګښتونه کم شي. په دې برخه کې افغانستان ځانګړي ټوپوګرافيك خصوصيات  لري چې  په  هيواد کې د بريښنا د لينونو غزولو لپاره اسانتيا رامنځته کوي. د لږ بوټي او ونې او د ډيرو غونډيو شتون د اوږدو مسيرونو لپاره فرصت وړاندې کوي او د مناسب سړکونو څخه پرته  د هيواد  بېلا بېلو سيمو ته لاس رسي د دغه ډول جوړونه عملي کيدای شي ، په ځانګړی توګه که چېرې دغه چارې د هليکوپټرو په وسيله تر سره شي.
17. د سرچينو د دهليز د سکرو پروژې به د کاربنو استخراج زيات کړي، خو د سړي سر ګلخانه يي ګازونو اخراج يا ډالر سر ناخالصو ملي توليدات    به د نړی تر ټولو ټيټ پاتې شي. تر کال ۲۰۲۵ پوري به د سرچينو د دهليز پروژې به د سړي سر کاربن ډاي اکسايد ($CO_2$/capita) اخراج له اوس مهال ۰،۱۰ ټنو څخه تر ۰،۱۸ټنو پورې ( د ۱،۵% د نفوسو د کلنی زياتوالي پر بنسټ) پورې زيات کړي: دا د 2009 د نړيوال اوسط سره چې سړي سر ۴،۴ ټنه  کاربن ډاي اکسايد اخراج دي، مقايسه شوی دی. د سکرو پرمختللي تکنالوژي به اساسا ډير اغېزمندتوب ( په وصفي ډول د ۴۲-۴۳ % اغيزمندتوب د ۳۶-۳۷% اغېزمندتوب  په پرتله چې د نورو برخو څخه يې تمه کيدای شي) او په لږ اندازه د ګلخانه يي ګازونو اخراج کيږي، خو د هر واحد لږ تر لږه اندازه يې د ۶۰۰ ميګاواټو شاه اوخواه ده، او له همدې امله پدې پړاو کې په افغانستان کې د انرژی لپاره  د مخ پر ډيرېدونکي اړتيا لپاره مناسب نده. په اسيا کې د سکرو  پروژې د ۲ x ۵۰۰MW  څخه کوچني ندي. اغيزمندتوب يي کيدای شي د افغانستان بريښنا شرکت سره د انرژي د پيردولو په قرارداد کې  د نارموتيف حرارت  د ميزان په ځای کولو  سره زيات کړو. سر بيره پر دې، د ګلخانه يي ګازونو په اخراج کې ورته ښه والي کېدای شي په ټي او ډي (T&D)کي د تخنيکي ضايعاتو په راکمولو سره ټول سيستم ته د پراخي ګټې په رسولو سره ترلاسه شي.
18. په اخره کې مونږ دا نظر وړاندې کوو چې د ټي او ډي (T&D) د ضايعاتو اوسنی اندازه (تخميني اندازه يې د ۳۰– ۴۰ %) د منلو وړ نده. د ټي او ډي د ضايعاتو راکمول، او په ځانګړي ډول غير تخنيکي ضايعات، د فوري لومړيتوب په ډول د لوړې خالصې اقصادي ګټې او همدارنګه د ګلخانه يي ګازونو په اخراج کې د پام وړ کمې رامنځته شي. دغه ګټې پرته له دې چې  د عرضې يا ليږد انتخابونو ته او يا ظرفيت اړونده وړاندوينو ابهاماتو ته پام وشي، زياتوالي مومي